نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۸/۱۰/۰۵

# د خلیلزاد سفرونه، طالبان او سپمئیز هیوادونه

د سولې اړوند د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر استازي زلمي خلیلزاد په مشرۍ امریکایي هیئت رسمي سفر افغانستان، پاکستان، متحده عرب اماراتو، قطر او سعودي عربستان ته د اکتوبر پر ۴مه پیل اولس ورځې به دوام وکړي.
د سولې خبرې آسانه هم نه دي، د مجاهدینو پر مهال د ژنیو مذاکرات او بیا د بینن سوان د سولې طرحه، چې تر ډېره تمه کېدله چې عملي به شي، ډاکټر نجیب الله به په سولئیز ډول واک مجاهدینو ته وسپاري، په وروستیو شیبو کې د سولې طرحه ناکامه، ډاکټر نجیب الله د ده په لاس د جوړو شوو ملیشو د مشرانو لخوا ونیول شو، ارگ ته د شورای نظار او پرچم ډلې جنرالان ننوتل، او کورنۍ جگړې پیل شوې.
د امریکا / ناټو سره طالب د جگړې مهم اړخ دی، هغوی جگړه کوي، او د هیواد تر نیمايي په زیاته برخه سېمو واک او کنټرول لري، د دوی خبرې اوریدل په کار ده، چې هغوی بالاخره څه غواړي، د بهرنیانو وتل په کومه طریقه غواړي.
اوس مهال د افغان جگړې برخه کې د امریکا پنټاگون، سي آی اې او بهرنیو چارو وزراتونه فعالیت کوي، تر څو چې پنټاگون او سي آی اې د افغان جگړې اړوند طالبانو سره تفاهم ته ونه رسیږي، د بهرنیو چارو وزارت ته به سخته وي چې ستونزه حل کړي، امریکا کې هم واک او قوت له پنټاگون او سي آی اې سره دی، کټ مټ لکه پاکستان کې چې واک له پوځ او آی ایس آی سره دی.
د خلیلزاد ماموریت، پنټاگون او سي آی اې
د خلیلزاد پیل شوی سفر به د سولې برخه کې مرسته وکړي، ولې دا چې زلمی خلیلزاد په کابل کې سفیر و، او بیا وروسته وختونو کې، ډیر ځله یې ځرگندونې شمال ټلوالې پر خپل زیان بللې، د پاکستان او هند ترمنځ د سیاسي رقابت برخه کې، پاکستان نیوکه کوله چې زلمي خلیلزاد د هند لورى نیولی، وخت ته به اړتیا وي چې د پخوانی شمال ټلوال د غرو او پاکستان باور تر لاسه کړي.
د افغانستان کشاله کې ور ننوتي هیوادونه، د پاکستان سربیره ایران، هند او روسیه هم دي، په کار دا وه چې د عربي هیوادو پر ځای امریکایي هیئت همدې مداخله کوونکو هیوادونو ته سفر کړی وای، په داسي حال کې چې د خلیلزاد پخوانی اړیکي له روسیي او ایران سره هم ستونزمني بلل شوې.
که خلیلزاد د امریکا- افغان جگړې اړوند خپلې پخوانی تیري تیروتني ونه مني، تکرار یې کړي، ناکام به وي، که هغه درک کړي وي چې د امریکا ستونزه له طالب سره مخامخ خبرې ، د سیمې هیوادونو په اعتماد کې اخیستل دي، بیا نو په کار ده چې د افغانستان گاونډیو هیوادونو، روسیې، چین او هند سره په گډه د سولې پر تگلاره کار وکړي، او په افغانستان کې د امریکایي قواوو د مشر سکاټ میلر وروستی ځرگندونې: " طالبان دي زموږ د وتلو تمه نه لري، موږ په افغانستان کې اوږدمهاله شتون لرو". به د امریکا او طالبانو ترمنځ تازه پیل شوو خبرو باندي خامخا منفي تاثیر ولري.
لا هم ځرگنده نه ده، چې زلمی خلیلزاد به د سولې برخه کې څومره واکونه ولري، هغه به یوازي د بهرنیو چارو وزیر ته سلا مشورې او راپور وړاندي کوي، د پنټاگون او سي آی اې ادرسونه به بېل وي.
خلیلزاد دوه کلونه عراق کې، دوه کلونه افغانستان کې او بیا ملگرو ملتونو کې د امریکا سفیر او د امریکا د ولس مشر ځانگړی استازی تیر شوی، امریکا کې تصمیم نیونکي کسان د گوتو په شمار، ولسمشر، دفاع وزیر، د سي آی اې مشر، د بهرنیو چارو وزیر او پنځم کس یې په ملگرو ملتونو کې استازی او سفیر وي، خلیلزاد یو وخت، د امریکا سیاست کې همدومره مهم کس و، ولې اوسني دنده یې د پخوا په پرتله د شنونکو له نظره هومره په لوړه کچه نه ده، هغه به په افغانستان کې د سولې برخه کې د بهرنیو چارو وزیر د سلاکار دنده پر مخ وړي.
سپمئیز هیوادونه او د بهرنیو ځواکونو د وتلو خبرې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د امریکا امنیتي اداري فکر کوي چې ټرمپ بیره لري چې خپل پوځیان وباسي، ټرمپ سوداګر دی او ټوله توجه یې سوداګرۍ ته ده، له ملګرو ملتونو، چین، روسیې، اروپایي ټولنې، د ناټو غړي اروپايي هیوادونو، کاناډا، مکسیکو، او اروپا سره یې اقتصادي جګړه روانه کړې، افغانستان کې هم د خپلو اقتصادي موخو اړوند فکر کوي.
دا دی د امریکا – افغان جګړې اتلس کلونه پوره شول، د سیګار راپورونه ټرمپ او امریکایي ولس ته رسیږي، چې په تیرو ۱۸ کلونو کې دوی کومه لاسته راوړنه لري؟ او د پروموټ پروژې اړوند د سیګار راپور امریکایي میرمنو او ولس ته ټکان ورکووني و.
که څیني افغان سیاستوال فکر کوي چې د امریکایي پوځیانو یو ناڅاپه وتل په هیواد کې د ننه ګډوډي زیاتوي، ولې د افغان ولس اکثریت بیا غواړي چې پوه شي، تر کومه وخته، د کوم هدف لپاره به امریکایان دلته شتون ولري، ځکه د همدوی شتون خپله د نا امنی یو له اصلي لاملونو څخه دی.
که نظام یو ناڅاپه سقوط کوي، دا تښه به څوک ډکوي، که باالفرض طالبان وغواړي چې د زور او یا بلې لارې واک ته ورسیږي، هغوی به اجتماعي خدمات، خلکو ته کار او اقتصادي ودې اړوند کومه تګلاره مخکي وړي، آیا په مصر کې د محمد مرسي نظام زموږ له پاره تجربه نه ده چې څه ډول له منځه یوړل شو.
اړینه ده چې د پاکستان په موخو پوه شو، پاکستان د مجاهدینو د مهال غوښتني ممکن له طالبانو هم په نظر کې و لري، او طالبان پوهیږي چې پاکستان کومې موخې لري، هغه څه چې د روسانو سره د جهاد پر مهال پاکستان په ژنیو کې وکړل، او تر نن ورځې یې بدې پایلې موږ په سترګو ګورو.
پاکستان به خامخا د طالبانو د ویش هڅه کوم وخت وکړي، لکه چې مخکې یې هم کړې، تر څو مذاکرات د پاکستان له ادرسه مخکې یوړل شي.
د اکتوبر ۲مه ۲۰۱۸، د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شا محمود قریشي په واشنګټن کې د امریکا بهرنیو چارو وزیر پیمپو سره ولیدل، او د اکتوبر پر ۳مه یې وویل: " د پاکستان او امریکا د حکومتونو ترمنځ ترینګلتیا او اختلاف د افغانستان په ۱۷کلنې جګړې، ناورین آو افغانستان کې له امنیت او حالت ښه کیدو سره تړلې."
داسې راپورونه شته چې پاکستان کې نږدې پنځه اونۍ مخکې د پوځ او آی ایس آی د مشرانو تر منځ ناسته شوې، هغوی پر دې بحث کړی چې له افغانستان څخه اوس وخت کې د امریکایي پوځیانو وتل د پاکستان په ګټه دی، او که دا مهال یې پاتې کېدل د پاکستان په ګټه دی، ۵۰ سلنه نظریات یکې داسې ویل شوې چې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو نه وتل د پاکستان په ګټه دي.
له یادې ناستې وروسته، سمدستي د امریکا بهرنیو چارو وزیر پیمپو پاکستان ته سفر وکړ او د سپتمبر پر ۵ مه یې له پاکستاني سیال سره ناسته درلودله، د پاکستان لپاره امریکا ومنله چې د پیسو نړیوال صندق( آی ایم ایف) څخه قرضه اخیستلای شي، کوم چې مخکې همدې پیمپو ویلي وو چې دا قرضه باید پاکستان ته ورنه کول شي.
افغانستان له سیمئیزو هیوادو سره پرته له ښو اړیکو چاره هم نه لري، که امریکایي پوځیان ناڅاپه وځي، او خدای مه کړه، د ځینو کورنیو او بهرنیو کړیو او هیوادونو له خوا بیا هم په هیواد کې د ننه ګډوډې ته لمن وهل کیږی، او یا ځیني هیوادونه مداخلي کوي، بیا هم د افغانستان نا امني په سیمه او ګاونډیو هیوادو خپل تاثیر لري، او له چا او کوم هیواده تمه کیدای شي چې د افغانستان په امن کې دغه درونډ بار ته له افغانانو سره اوږه ورکړي.
د امریکا او طالب مخامخ خبرې څومره اړینې دي؟
که چیرته له امریکا سره د طالبانو تفاهم کیږي، مخامخ خبرې کیږي، امریکا د یو معلوم مهالویش له مخې خپل پوځیان وباسي، په دغه ډول کړنه کې پاکستان د اوس مهال لپاره ګټه نه ویني.
امریکا ته په کار ده، چې له طالب سره داسې معامله وکړي چې تیر هیر کړي، په امریکا کې د طالبانو د لاسوهنې هیڅ ډول ثبوت امریکا په تیرو ۱۸ کلونو کې وړاندې نه شو کړلای، باید امریکا خپلې تیروتنې ومني او د طالب غوښتنو ته غوږ کیږدي، تفاهم وکړي.
داچې طالبان له چین، روسیې، ایران او پاکستان سره اړیکې لري، او هغوی به هم د هند په شمول د افغانستان راتلونکې اړوند غوښتنې او اندیښنې لري، که طالبان د یادو هیوادونو اندیښنو ته غوږ ونه نیسي، بیا هم افغانستان کې امنیت راتلل ستونزمن ښکاري.
که نړیوالې ټولنې تیر ۱۸ کلونه په فساد کې ښکېل حکومت سره مرستې کولې، په دې دې هم فکر وکړي، چې د طالبانو په ګډون د راتلونکي نظام سره هم باید خپلې غیر مشروط، ملکي او بشري برخه کې مرستې ونه دروي، او اړیکې محدودې نه کړي، لکه چې د روسانو تر وتلو وروسته یې همدا کار وکړ، او یا د طالبانو د نظام پر مهال یې همداسې وکړل.
هغه کسان چې د امریکا په شتون کې یې مالي ګټې کړې، واک ته رسیدلي او یا واک ته بیا ځل رسیدل غواړي، هغوی د امریکایي پوځیانو وتل نه غواړي، بلکې غواړي چې امریکایان همدلته پاتې وي.
روسانو او امریکا په ګډه پخواني مجاهدین تیل وهل، بدنام یې کړل، که طالب هم هغسې ګډ وډې ته ولاړ شي، ډیر به بدنام شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که  افغان دولت څومره هم کمزوری کیږي، امریکا مجبوریږي چې بیا هم د افغان کشالې اړوند له ګاونډیو هیوادو مرسته وغواړي، او ګاونډې هیوادونه به بیا له طالبانو سره  د امنیت راوستلو خبرې کوي، نو په کار ده چې امریکا اول لاس خبرې مخامخ خپله له طالب سره وکړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ